مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی
۲۰۲۴/۰۵/۲۸

# په فردوس کې دوزخي ټوپک

له نن څخه ټيک ۴۴ کاله وړاندې، موږ د فلپس يوه ميرات مړې راډيو درلودله. کله به چې کوم غوږ خبر يا د استاد اول مير داسي فولکوريکه شانتي سندره وه، نو غږ به يې هيسته ځړ پړ شو. د ۱۳۵۸ کال د جدي په شپږمي شپې بل رقم يخني وه؛ شين آسمان له ځلېدونکو ستورو ډک وو او په خوند خوند يې سترګکونه وهل. دغه مهال، زه تنکی ځوان او د دولسم ټولګي شاګرد ووم. ناڅاپه يو ګاونډي مو د بام سر ته وخوت او د خپل شلخي پنځه ډزي ټوپک يو شاجور يې په هوا کې تش کړ. زموږ يو معلم صيب چې غوږونه يې په چترالي پکول کې پټ کړي وو، د نورو ګاونډيانو په څېر وارخطا راووت او هغه ځوان ته يې وويل: (احمق الله خانه! دا په کومې خوشحالی کې؟ که امين لاړ، دا دی شين ټاغي راغلل). نو ماته د ارواښاد کشاف صيب تکيه کلام راياد شو چې چورت به يې سم وو، نو ويل به يې: (ته دومره جاهلات چې په دې نه پوهيدات)؟

د شورويانو وحشي يرغل، د شين آسمان تندر وو چې د هر ګناهکار او بېګناه په ککرۍ يوشان را پريوت. د سر سودا او د نفسي نفسي خبره شوه؛ نر هغه وو چې ځان يې ډډې ته کړ. موږ هم بسم الله کړه او په يوه ساه مو ځان پېښور ته ورسولو. دغه وخت، په پيښور کې يو جهادي تنظيم دومره ځواکمن وو چې د اطلاعاتو (استخباراتو) کميټه يې د ځايي پوليسو څخه هم هيبت ناکه وه. د يو مهاجر لپاره سينما ته تګ که سور کوپر نه وو، نو له کبيرې ګناه څخه هم لوی جرم ګڼل کيده. خو ما او زما د ماما زوئ چې زما همزولی دی، زړه مو له زمري قرض کړ ترڅو د (ټوپک زما قانون) فلم وګورو چې زموږ د واليبال ملګري يې په صفتونو نه مړيدل.

د پيښور په سينماګانو کې يوه ډيره نامي وه چې د جي ټي روډ په نوم سرک ته څيرمه پرته وه او ګرد چاپيره يې د دود پټي چای دوکانونه وو. د ننداری د لويي دروازې د پاسه، په انګريزی او اردو ژبو د « فردوس سينما هال » ليکل شوی وو، خو شکر دی د جنت کلمه يې ورسره نه وه ليکلې. د فلم د پيل سره جوخت، له خال خال چوکيو څخه د چرسو لوګي او شنې لوخړې را پورته شوې چې نژدې وه وچې باقي (استفراق) وکړو. بدر منير د فلم مرکزي کردار لوبولو او په هرې صحنې کې به يې په غصه ناکې لهجې سره د ټوپک زما قانون خبره کوله.

زه دلته د فلم په هنري بې کيفيتی او مبتذلې لهجې خبره نه کوم؛ ځکه دغه فلم په هيڅ ډول د پښتنو د حجرې او ديرې د درونو او حياناک کلتور نماينده ګي نه کوله. د فلم د ليکوال، پروډوسر او دايرکټر په ښه نيت هم شک نه لرم، خو نندارچيان يې په لوی لاس تشدد، بغاوت او ناغيری ته هڅول. د قلم په ځای، د ټوپک او پخلاينې په ځای د انتقام خبره کيدله. وسله، کارتوس او ګردنی د يو شملې وړ، توريالي او جنګيالي پښتون ګاڼه شميرل کيږي. په دې هم ټول پوهيږو چې دا فلم يو تمثيل او مازې د پيسو ګټلو ذريعه وه، ولې په عين حال کې هغه د يو مهذب، سوله خوښي او بهادر قوم د باورونو او ارزښتونو ناسم انځور وو. ځکه ټوپک وژل کوي او قلم ولسونو ته د ژوند کولو هنر په ګوته کوي.

قلم يو رنګين خلقت دی، ستر خالق وربانديې لوړه کړې او د کوڼ او کائناتو تقدير يې د هغه په نوکه ليکلې دی. الله تعالی پخپل کتاب کې داسي فرمايي: (ن. وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُونَ). د هيڅ پيل، د قلم له هست سره پيل شوی، د ولسونو بدلون د ده له خوځښت سره ګينده شوی او د تيرو پرګنو د زوال او عروج کيسي قلم ثبت کړيدي. قلم د انسان په ذهن کې انقلاب راولي او په تېر کې بنديوان زړه، له مينې او يا هم له کرکې څخه ډکوي. قلم نغمی ليکي، د مظلومانو له کړيکو توپانونه جوړوي او د ظالمانو فولادي برجونه ړنګوي. له همدې ځايه، تکړه ليکوال هغه نه دی چې د خپلې ليکنې لپاره يواځې


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

جادوګر لفظونه او قالبي جملې انتخابوي، بلکې ښه قلموال او انځورګر هغه دی چې د خلکو په زړونو او فکرونو کې د زغم او حوصلې تخم کري او د پخلاینې روحیه مزبوتوي. اوس په نړۍ د هغه چا واکمني او باداري ده چې قلم یې رسا او له رنګه ډک دی.

نن د ډیورند په لر او بر کې د کارتوسو او باروتو راج دی او د پینځو لسیزو راهیسې د (ټوپک زما قانون) ببولالي زمزمه کیږي. یقینا، له عقیدې څخه دفاع جهاد دی او د ملي نوامیسو ساتنه فریضه ده. لکن د ډرون او ټکنالوژۍ په دې پیر کې د قلم د نوکې په ځای، د ټوپک په ماشې اصرار کول عقلانیت نه برېښي. دا دی یوځل بیا په دې شعار شخوند وهل کیږي چې افغانستان خو د امپراتوریو هدیره ده. که د پوهې او رڼا غلیمان د علم، عرفان او قلم خاوندان وژني او فکر کوي چې د جنت لار یې نیولې، نو دوئ د کعبې په ځای ترکستان ته روان دي. ځکه د یو بیګناه انسان د وژلو سزا، ابدي جهنم دی.

د فردوس په سینما کې د دوزخي ټوپک د ننداري او د شورویانو د یرغل دا دی ۱۶۲۱۳ ورځې پوره شوې، خو زموږ په سیمه کې د ټوپک شپېلۍ لا هم توده ده. د ټوپک قانون زموږ ولسونو ته یوازې غمونه، هجرتونه او بیوسي په میراث پرېښوده. څومره مؤمن بنده ګان دهمدې کلچر نذرانه شول؟ څومره میندې بورې او خوېندې کونډې شوې؟ څومره ګلالۍ لونې د درویزې کچکول ګرځوي او د سړک په غاړه خیرات ټولوي؟ که چیرې د ټوپک خاوندانو په همدې مودې کې د کونداغونو ترڅنګ له قلمونو او رنګونو څخه هم کار اخیستی وای، نو نن به موږ د سیالانو، سیال او خبره به مو د ګاونډیانو په منځ کې میره وه. آیا اوس خو به ډیر ناوخته نه وي؟

---

یادونه: که لوستونکي وخت او علاقه لري، نو کولای شي د ملکزي نوري لیکنې او څیړنې د هغه په فیسبوک، لنکد ان او د یوتیوب په چینل کې ولولي او وګوري؛ ادرس یې دا دی: Wali Malakzay

[د لیکوال نوري لیکن لیکنې په دې لینک کې ولولئ](#)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ